انجنير سيد عبدالقادر ۱۵ـ۱۰ـ ۲۰۱۰

# په کندهارکي دهمکاري په نامه پوځي عمليات

په ښامار ي ګوزارباندي واوښتل

سرې لمبې يي جوړي کړي زما پر ښکلي کندهار
هر يو وژني بي پوښتني د ې وطن کي بي صاحبه
نې باغ کي حاصل پريښود نې چرګه کوم کاله کي

نه ماشوم پريږدي په کور کي نې پلار پر سمه لار
غـته خوله يي خـلاصه کـړي لکه وږي لوي ښاما ر
داوحشي کــه ساديـستان دي ورانـوي تاريـخي ښـا ر





په افغانستان کي د اوباما اداري دخپلي نوي سترا تيژي د پلي کولو او افغان ولس دتير وتلوله پاره د پوځي عملياتو نومونه په ظاهراً ډير نرم او غولونکي لکه ( همکاري، اميد ۰۰۰۰ ) ايښي دي، او په اصل کي بيا هم دبوش ددوران په خير خپل پوځي عملياتونه د داسي تاو تريخوالي سره مخ ته بيايي، چې په واقعيت کي يي ډيري سختي ناخوالي وشاته پري ايښي، او پرېږ دي يي، چې پايله کي يي نه يوازي افغان مقاومت ددوي په وړاندي نور هم غښتلي سوي دي، بلکه ددې يرغلي ځواکونو حاکميتونه يي هم په خپلو ولسونو کي دسختو سياسي ستونځو او بي اعتماديو سره مخامخ کړي دي. چې ښه نيژدي مثال يي په انګلستان کښي دفبروري دمياشتي ټولټاکني وي، چې دکارګر حاکم او محافظه کار دواړو ګوند ونو ونه کړايسواي چې په ټاکنو کي دخلګو داکثريت رايه تر لاسه کړي ۰ او دوي په خپل تاريخ کي دولس په منځ کي ددغسي ښکاره سياسي ماتي سره نه وه مخامخ سوي ۰ دا ځکه چې ددواړو ګوندونو د بهرنيو تګ لارو په پايله کي نه يوازي هغه څه نا څه سياسي اتوريته چې په ځانګړي توګه په دريمه نړي کي درلودله سخته زيان منه کړله، بلکي وخپلو ولسونو ته يي هم په بهر کي دجنګونو په نتيجه کي بشري ناورينونه او اقتصادي ستونځي ور په برخه کړي دي ۰ او داسي معلومه سوله چې دغربي نړي ولسونه دخپلو واکمنانو هغه يرغلي کړني او پوځي عمليات په ډير دقت تر ځارني لاندي نيولي دي، کوم چې دا واکمنان يي دخپلو ناپاکو مخو له پاره ، زموږ دوطن د آرامو سيمو بي ګناه افغانان دبشري ناورينو او اقتصادي سختو ستونځو سره لاس او ګريوان کوي، او بيا ډير ژر بله سيمه دهم داسي برخه ليک سره مخامخ کوي ۰ چې نيژدي مثال يي د فبروري په مياشت کي دهلمند د ولايت دمارجي او نادعلي په ولسواليو کي ددوي هغه شوم پوځي عمليات وه، چي په سلګونو ملکي کسان يي شهيدان، زخميان، کورونه يي په کنډوالو ور تبديل او په زرګونو کورني يي د خيمو تر سختو شرايطو لاندي مهاجرت ته مجبوره کړي۰ او ددوي دمخکنيوتبليغاتي ادعاووځخه ليري، نه يي دمارجي او نادعلي په ولسواليو کي امنيت راوست نه يي سالمه اداره، نه يي دکوکنارو کښت دمنځه يووړي او نه يي کومي دبيا رغوني پروژې پلي کړي ۰ ولي د پوځي عملياتو په پايله کي يي يوازي دهغه ځاي وخلګو ته بشري او اقتصادي ناورينونه ور په برخه کړل اوبس۰ ويلايسو ددوي داسي کړني يوازي او يوازي وخپلو نا پا کو مخو ته درسيدو له پاره دي اوبس ۰ چې دپورتني ادعا ښکاره ثبوت دسپيني ماڼي د (۱۱ ـ۱۰ ـ ۲۰۱۰ ) نيټي تازه ريوټ دي چې په يوه برخه کي داسي راغلي دي : د ولسمشر کرزي په حکومت کې پر اداري فساد او ضعيف حکومت هم خبرې شوې او ويل شوي دي چې د ښې حکومتدارۍ لپاره د حکومت او نړيوالو هڅې ناکامې دي. په دغه ريوټ کې د مارجې عمليات د بيلګې په توګه ياد شوي او ويل شوي دي چې ددغه عملياتو په اړه ډير تبليغات وشول خو پايله دا شوه چې عمليات ناکام وو .

دا دي نوبت يي اوس دکندهار تاريخي ولايت ته ورسيدي، چې نيژدي ددرو اونيو راهيسي دا بشر وژونکي او نړيدونکي يرغلي پوځي عمليات، د ابدالي تاريخي کندهار ښار په ګډ پو لو د رو ولسواليو (ارغنداب، ژړي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پنجوايي) کي دښماري ګوزار تر نامه لاندي په داسي وخت کي شروع سول، چی نيژدي د پينځو مياشتوراهيسي دهمکاري ترنامه لاندي پوځي عمليات دهم دې ولايت په ځينو سيمو کي شروع سوي وه، په داسي حال کي چی تر دې جنګي عملياتو څو مياشتي مخکي د امريکايی خبری شبکې ( آی . پي . ايس ) دهغه وخت په خپل تازه راپور کي د هغه سروې په حواله چي د يوې خصوصي امريکايي مؤسسي لخوا سوې، ليکي چي په کندهار کي ۹۴٪ خلک د طالبانو سره جنګ نه بلکي خبري اتري غواړي او ۸۵٪ خلکو ورته ويلي چي طالبان « زموږ افغاني ورونه » دي. دا تولپوښتني په ښار، د ښار په اطرافو، ژړی، ارغنداب او پنجوايي ولسواليو کي سوي دي. ۹۱٪ خلکو لويه جرګه وغوښتله.

ولي امريکايي چارواکو دپورتنی سروي او دسيمي دخلګود ارادې خلاف دخپلو شومو مخو له پاره خپل جنګي عمليات دښمار ي ګوزار تر نامه لاندي دتاوتريخوالي نوي مرحلي ته ور ننه ايستل٠ اوس به دليکني په دې برخه کي په کندهار کي ددې پوځي عملياتو په اړوند دغربي نړي دځينو چارواکو د څو مياشتو مخکي دڅرګندونو څو لنډي برخي دلته رانقل، او بيا په وروستي برخه کي يو لنډ ه کتنه پروکړو٠

څو مياشتي مخکي دامريکا نظامي واکمنانو دجمعي رسنيو له لارې داسي تبليغات رامخ ته کړي وه، چی ګواکي ددوي په وړاندي د مقاومت اصلي پايګاوي چی د طالبانو اصلي مرکزونه يي بلل، دهلمند دمارجي او نادعلي سيمي دي، چی دطالبانو دجنګ دتمويل پيسي هم ددې سيمو دکوکنارو څخه پوره کيږي٠ او ددې وځنګ ته يي بيا دکندهار د ځينو ولسواليو يادونه هم کوله٠ اودليري ځايه يي ددې ولايت وخرابولو ته هم غاښونه چيچل٠ چی ځينو نظاميانو په دې اړوند داسي ويل: دکندهار دولايت څخه دطالبانو تصفيه کول به يي په افغانستان کي دامريکا دجنګ په کاميابي پوري تړل٠ او دځينو امريکايي نظاميانو دڅرګندونو له مخي دکندهار دولايت په دې سترو پوځي عملياتو کښي ۲۵ زرو پوځيانوګډون کړي دي ٠ د دآزادې دراډيو ( ۲۴ ـ ۵ ــ ۲۰۱۰ ) نيټي د رپوټ له مخي په کندهارکي دامريکا په مشرۍ دناټو عمليات د نړيوالو ځواکونو لپاره يوه جدي ازموينه ده او يواځې په پوځي اقداماتو پوري نه محدوديږی بلکې په داسي شکل تنظيم شوي، چې پرمختيايي پروژې هم په کې شاملې دي ددې عملياتو نتايج به ښايي له افغانستانه دامريکايي ځواکونو دوتلو پرستراتيژۍ هم اغيز وکړي. ددغو عملياتو اساسي هدف په دې ولايت کې دوسله والو طالبانو دنفوذ کمزوری کول دی خو دې هدف ته د رسيدو لپاره ډيرې ستونزې هم په مخکې شته. له وسله والو طالبانو څخه دکندهار دتصفيه کولو په هدف د بارک اوباما دادارې پوځي عمليات يو خطرناکه اقدام دی، چې حتی ددې عملياتو پلان جوړونکی يې هم پربرياليتوب شک کوي ٠ او هم دارنګه داراډيو د ( ۳۱ ـ ۸ ـ ۲۰۱۰ ) نيټي باندي داسوشيټد پرس خبري آژانس په حواله وايي چی: مارک سيگمن يک مامور سابق سی آی ای يا ادارۀ مرکزی استخبارات امريکا که تجربه کار را در منطقه دارد به آژانس خبررسانی اشوسيتد پرس گفته است که قايل شدن اهميت بيش از حد به جنگ قندهار ناشی از طرز تفکر نظامی غربی بوده که با شرايط افغانستان هيچ سازگار نيست. وی می افزايد، اگر امنيت قندهار تحکيم شود باز هم احتمال دارد که جنگ افغانستان در مجموع به ناکامی منجر شود، چون نقش حکومت در افغانستان ضعيف بوده و تسلط حکومت کابل بر ولايات ضعيف می باشد . او دهم دې راډيو درپوټ له مخي تورن جنرال نيک کارتر قوماندان بريتانوی نيروهای ناتو درجنوب افغانستان می گويد : « قندهار ستالين گراد شوروی و فلوجۀ عراق نمی باشد، جنگ ما برای حکومت داری سالم و مبارزه عليهء گروه های مافيايی و آشوب گران است. ما زمانی پيروز می شويم که مردم از يک ادارۀ سالم دولتی برخوردارشوند.» ٠ اوهم دا رنګه دواشنګټن پوست د۲۴ ـ ۵ ـ ۲۰۱۰ نيټي دورځپاڼي په حواله دامريکا د بهرنيو چارو وزيرې هيلري کلينټن په وينا دکندهار په ښار کې به هيڅ يو ټانګ هم تګ راتګ ونه کړي. پردې سربيره به له وسله والو طالبانو څخه ددې ښار دتصفيه کولو په ترڅ کې دپرکوښښ وشي چې ښار خراب نه شي.

ولي د بريتانيا دفاع وزير دمي دمياشتي په وروستيو کي دټايمز دورځپاڼي سره په خپله مرکه کې داحمقانه زور زياتی سره يو ځاي بيا دخپل يرغل دتوجيه کولو له پاره داسي ويلي وه: «موږ په افغانستان کې د دې لپاره نه يو چې د ديارلسمې پيړۍ د دې مات ګوډ هيواد خلک ورسوو. موږ هلته د دې لپاره حضور لرو چې د بريتانيا د خلکوا و زموږ د نړۍ ګټې په دې کې دي چې خطر ورته پيښ نه سي ٠

دغربي چارواکو دپورتنيو څرګندونو په اړوند بايد ووايو: چی دا لومړي ځل نه دي چی غربي مختليف چارواکي داسي ضدو نقيض او غوړي څرګندوني کوي ٠ ولي افغان ولس دنهو کلونو راهيسي نه يوازي ددوي داسي دواقعيت څخه ليري او دچل او چم څخه ډکي غوړي خبري اوريدلي او هم ددوي ډيري نا پاکه کړني يي د نيژدي ليدلي دي ٠ ځکه نو ولس وايي، چی په دې تيرو نهو کلونو کي هيڅ دا سي يوه سيمه نه په ګوته کيږي، چی ستاسو ديرغلي ځواکونو تر ګوزارونو وروسته دي هغه سيمه بيا جوړه سوي، او يا د ملکي شهيدانو دکورني دپاتو کسانو سره دبشر دنړيوالو حقوقو له مخي چلند سوي وي٠ او جنګي جنايتکاران دي محکمي ته کش سوي وي ٠ او ددې نهو کلونو په ير غلي بهير کي دوي په هراړخيز ډول کوښښ کړي دي، چی په دې وطن کي هر بشري جنايت چی تر سره کوي هغه بايد پټ وساتل سي٠ ځکه نو په کندهار کي ددې پوځي عملياتو دشروع څخه داسي معلوميږي، چی پر ټولو کورنيو او بهرنيو ژورنالستانو باندي داسي بنديز لګول سوي دي، چی هغوي نه سي کولاي چی دجنګ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ميدانونه دنيژدي فلمبرداري، او رپوټونه يي د کورنيو او نړيوالو رسنيو له لاري خپاره کړي ۰ او دابنکاره حقيقت دي چې ددې ستر پو ځي عملياتو بهير پټ ساتل سوي دي ۰ چې داخپله دآزادو ژورناليستانوپه وړاندي دامريکا او غربي نړي دقلابي ډموکراسي يوه ښکاره نمونه ده ۰ ولي يوازي تاند دفرانس پريس خبري آژانس د ( ۳۰ ـ ۹ ـ ۲۰۱۰ ) نيتي په حواله هغه هم يوازي دکندهار په ښارکي د ولايت دکډوالو دچارود رئيس محمد اعظم نوابي ديوه سوال په ځواب کي لږ څه داسي څرګندوني خپري کړي دي : « په يوه مياشت کي کندهار ښار ته له ژړۍ او ارغنداب ولسواليو څخه تر نهه سوه زياتي کورنۍ راغلي.لا هم خلک له خپلو کليو په تېښته دي او کله چې ښار ته رارسېږي نو خورا په بد حالت کې وي.»
ده دا هم وويل چې اکثره خلک تش لاس کندهار ښار ته کډواله کېږي. ځينو کډوال، چې د جګړې له ډېرسخت ميدان يعني ارغنداب څخه کندهار ښار ته تللي، وويل، دوی د د حاصلاتو په وخت له خپلو مېنو وتلو ته مجبوره کړای شول.
دې کار د دوی د ژوند او ګوزارې امکانات له منځه يووړل او يوې شپږ پنځوس کلنې ميرمني ګلالۍ بيا داسي ورته ويلي دي:«زما د کورنۍ درې غړي، زوی او دوه لمسيان، هغه وخت ووژل شول چې راکټ مو په کور ولګېد»
او هم بايد ووايم چه دکاناډا دتورنټو سن د۶ـ ۱۲ ـ ۲۰۰۹ په ورځپانه کی يو پخواني ژور نالست اوليکوال دخپلي ليکني يوه برخه کی هم ددې جنګي عملياتو په هکله په خپله وړاند وينه کي داسي ليکلي دي : دامريکا دغه سمندري تکړه پوځيان به سرکښه کندهار به نور هم ځيي کټ مټ لکه دعراق دفلوجي ښار چه يي لو ټي لوټي کړي ۰ هو! دابه يوازي دماتيدوله پاره تمرينات وي او بس.
اوس به دلنډي کتني په ترڅ کي ووايو، چې دفرانس پريس دپورتني کوچنۍ مصاحبي څخه چې هغه هم يوازي دجنګ ځپلو سيمو ديوه سړي او يوي ميرمني او دکډوالو درئيس سره يي کړي وه، هر څه ځيني په ډاګه کيدلايسي، هغه داچې : ددې نهو کلونو په بهير کي امريکايي او ناټويي يرغلي ځواکونو چې پر هره سيمه دهر نرم او تند نامه لاندي چې يرغل کړي دي، په پايله کي يي دبشري ناورينونو تر ځنګ وپاته خلګو ته يي ډيري سختي اقتصادي خرابي هم پرې ايښي دي۰ ځکه نو دوي يوازي ددې څو مياشتو خرابۍ چې دکندهار او هلمند په ولايتونو کي کړي دي، نه سي کولاي چې بيا يي ورغوي۰ دنهو کلونو ديرغلي بهير خرابي لا څه کوي۰ او دبشري جناياتتود ځواب څخه خو لا امريکايي او ناټويي هيوادونه په خپل تسليحاتي زور باندي ځانونه ليرې ساتي ۰ په داسي حال کي چې ديرغل په لومړيو کلونو کي امريکايي ځواکونو دبشري جنايتو په کولو سره حتی دبخښني کلمه يي هم پر خوله باندي نه راوړله ۰ ولي په دې وروستيو په ځانګړي توګه د اوباما د اداري په راتګ سره دبخښني وغښتګ ته دپلټني دکولو خبري هم شروع سوی، ولي په عمل کي معلومه سوي ده چې بيا هم هغه پخواني تګلاره او ړانده بمبونه پر ملکي خلګو غورځول کيږي۰ ولي په دې بې صاحبه وطن کي چې اشغالي ځواکونه هر بشري او اقتصادي جنايت تر سره کوي، دپوښتني څوک يي نسته ۰ دبيلګي په توګه دوي اوني مخکي دښمار ي عملياتو په درشل کي دکندهار ښار په لويد يځ کي يعني دښار او پنجوايي ولسوالي پر دوه لاري باندي دماښام پر اوه نيمو بجو پينځو پر له پسي چاودنو دکندهار ښار سخت ولرزاوه چې په پايله کي يي ۳۵ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله ۰ چې ددې جملی څخه يي ۹ نهه تنه ماشومان اويو پوليس په شهادت رسيدلي، څلور پوليس او ۲۱ ملکي کسان سخت ژوبل سوي وه ۰ وروسته عيني شاهدانو چې د زخميانو سره يوځاي وه دبينوا ويب پاڼي خبر يال ته يي ويلي وه، چې دا چاودني نه وي بلکه پر موږ باندي دبهرنيو سرتيرو دالوتکو بريدونه وه ۰ ولي دولايت چارواکو دافغاني وجدان څخه ليري، دايي دسړک دغاړي چاودني بللي وي ۰ ولي کرزي صاحب بيا دپخوا په شان سخته خواښيني ښکاره کړي او دپلټني امريي ورکړي دي ۰ چې دا پلټنه به يي هم دنورو پلټونو په شان وهيريدو ته وسپارل سي ۰ بل نيژدي مثال د همکاري دعملياتو په درشل کي د ارغنداب په ولسوالي کښي دشپي له خواه دواده په مراسمو باندي دناټو دقواوو هوايي بمباري وه، چې ډيره سخته مرګ ژوبله يي وشاته پريښول ۰ ولي ناټويي او دولايت چارواکوداسلامی او بشري وجدان څخه په ليري فاصله کي، داپه طالبانو پوري وتړل۰ ولی تر دې پيښي دوي ورځي وروسته هرڅه ميدا ن ته راووتل ۰ او بيا کرزي صاحب هم هغه سيمي ته ولاړ او دخلګو سره يي دنيژدي خواخوږي وکړه ۰
بل نيژدي مثال څو ورځي مخکي دهلمند دولايت دکجکي دولسوالي پر څو کورونو باندي دناټو دقواوو بمباردونه وه، چې وروسته بيا دکرزي دفرمان له مخي يو هيئت سيمي ته ولاړ، او دراستنيدو وروسته يي پر ۱۲ ـ۱۰ ـ ۲۰۱۰ دجمعي رسنيو له لاري خبر داسي خپور سو ۰ چې دناټو قواوو ديوه طالب له پاره دري کوره وران کړي، شل تنه يي شهيدان کړي او ۱۳ تنه يي زخميان کړي دي ۰ او کرزي صاحب به بيا هم دپخوا په شان يوازي خواخوږي ورسره وکړي او بس ۰ ولی دوطن په سطح کي داسي پيښي نيژدي هره ورځ او يا هره هفته پيښيږي، او دځينو پيښو خبرونه رسوا کيږي او ځيني يي بيا پټ ساتل کيږ ي ۰ ځکه نو تر څو چې دا اشغالي قواوي په دي وطن کي شتون ولري، اود وتلو له پاره يي پر يوه دقيق دسياسي حل پر ميکانيزم باندي کار ونه سي، دا دبوش دادراي جوړه کړي دبشري او اقتصادي ناورين لړي به هم داسي ادامه ولري ۰
اخځ : بينوا ويب پاڼه ۰ افغان جرمن انلاين ويب پاڼه ۰ تمت باالخير


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بنې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ